# د امن او سلامتیا په اړه

# د سیاسي ګوندونو او مدني ټولنې د نمائنده ښځو اعلامیه

نن د اتم مارچ د ښځو د ورځې نمانځلو په مناسبت د پښتونخوا ښځې چې د سیاسي ګوندونو او مدني ټولنې نمائندګي کوي په دې خبره د غور کولو دپاره راغونډې شوې دي چې د ښځو او ماشومانو د هغه احساساتو ترجماني وکړي کوم چې انتها پسندۍ، جنګ جګړو او پوځي اپرېشنونو له کبله را اوچت شوي دي.

مونږ دا خبره په ډاګه کوو چې د پوځي اپرېشنونو، جنګ جګړو او انتهاپسندۍ نه عام اولس، ښځې او ماشومان خصوصاً ډېر متاثره شوي دي او دا خطر ورځ په ورځ زیاتېږي.

دا خبره منلې شوې ده چې هغه عالمي بشري حقونه او ضمانتونه کوم چې د عام اولس او د ښځو او ماشومانو حقونه تسلیموي هغه اصول په دې جګړه کښې تر پښو لاندې کړے شوي دي.

مونږ په دې هم فکرمندې یُو چې جنګي عملیات او د هغوي په ضد پوځي عملیات د ښځو حقوقو ته ډېر لوئے خطر دے او په امن او سلامتیا راوستلو کښې د ښځو د کردار بیا یقیني کولو او د هغوي د مساوي حقونو او فېصله سازۍ کښې د شریکولو په خاطر دا فېصله کوو چې د امن جرګې د عمل په وړاندې بوتللو او د ښځو او ماشومانو د امن په عمل کښې د شریکولو په خاطر مونږ د حکومت نه، د سیاسي جماعتونو نه او نړۍ د قامونو نه غوښتنه کوو چې:

1. چې د امن راوستلو په عمل کښې او د بیا ودانۍ په عمل کښې دې د ښځو او ماشومانو د حقونو خاص خیال وساتلے شي.
2. د جینکو او ښځو تحفظ او احترام دې یقیني کړے شي، تر څو چې جنګیالي وسله ونهٔ غورځوي تر هغې د دوي سره هېڅ قسمه خبرې اترې کول نهٔ دي پکار او لکه څنګه چې آئین او نړیوال قانون د دې خبرې ضمانت ورکوي د ښځو او جینکو حقونه تر پښو لاندې نهٔ کړے شي.
3. د دې خبرې پخوالے او آساني پېدا کړې شي چې ښځې دې په هره سطح په فېصله سازۍ او د امن راوستو په عمل کښې شاملې کړے شي.
4. په جنګي مجرمانو او د نسل کشۍ کولو ذمه وارو ته دې د بین المللي جنګي قانون لاندې سزاګانې ورکړې شي او د عام معافۍ د شرائطو نه دې هغه خلق بهر کړے شي څوک چې د ښځو او جینکو خلاف په جنسي تشدد کښې ککړ پاتې شوي دي.
5. یو آزاد بشري کمېشن دې جوړ کړے شي چې هغه د بغاوت او جنګونو په نتیجه کښې جاج واخلي او د ازالې دپاره دې مناسب تجویزونه وړاندې کړي.
6. د دې خبرې انتظام دې وکړے شي چې د جینکو دپاره د عارضي او فوري سکولونو انتظام وکړے شي چرته چې د دوي سکولونه تباه کړے شوي دي او د دوي د تعلیمي او د صحت د سهولتونو دوباره جوړولو دپاره دې هم انتظام وکړے شي.

7. د امن، بحالۍ او بیا رغونې په عمل کښې د بشري حقونو او تربیت لپاره راهنمائي او مواد شامل کړے شي.